# د پورې هوتي خدائي خدمتګار

ډاکټر اميرمحمد خان عزيٰ خېل د هوتي

په ۱۹۸۸ کښې د يو ډکټېټر د مرګ نه پس په ټول ملک کښې عام انتخابات وو ،ما په دغه وخت د لسم امتحان ورکړے ؤ، د ووټونو ورځ وه مونږ د پورې هوتي د عوامي نېشنل پارټۍ د خپل تنظيم ملګري کارکنان د شاه ډنډ بابا پولنګ سټېشن ته لاړو، ټولو ملګرو کارکنانو سرې ټوپۍ په سر کړې وې، د سرو ستارو پړقنده بېجونه مو په سينو لګولي وو، مونږ ښۀ د زلميتوب په جوش کښې وو. په رګ رګ کښې مو د انقلاب ځوانو جذبو موجونه وهل ځکه چې په دغه وخت په افغانستان کښې ښه توده جګړه روانه وه، عوامي نېشنل پارټۍ به هم د انقلاب يو څو نعرې په ډېر زور او شور کښې وهلې، د ووټونو په دغه ورځ يو څو مشران سپين ږيري د همساګانو په ډاډ د ځوانو جذبو سره مې په کرسو ناست وليدل چې د ټولو په سرونو سرې ټوپۍ وې او يو دوه بوډاګانو په کښې سرې جامې هم اچولې وې، د يو نوم رحمت ګل کاکا او د دوېم نوم سالار ګل رحمان کاکا چې د پورې نورمن خېلو اوسېدونکي وو. د دوي خوا کښې نور مشران چې نومونه ئې په دې ډول دي خان زاده کاکا، مثل خان بابا عزيٰ خېل، عبدالواحد خان چې مونږ به ورته خان کاکا وې، ورسره خوا کښې په کرسۍ ناست فتح خان بابا چې تر مرګه پورې د لفټين بابا په نوم يادېدو هم د همسا په ډاډ سره ټوپۍ په سر کرسۍ کښې ناست ؤ، وړومبے مې دې ټولو ته حېران حېران کتل بيا لاړم ټولو مشرانو ته مې ډېر په مينه ستړې مشي ووئيل، ورسره په خوا کښې کښېناستم، فتح خان بابا راته په خندا کښې ووئيل چې بچے! د دې شنو برګو جنډو هيڅ پروا ونۀ کړې، ګټه به کۀ خېر وي نن ستاسو وي.

د پورې هوتي خدائي خدمتګاران د باچا خان د جېلونو سختو، سنګينونو او د جېلونو د چکو ملګري وو، د دې مشرانو د وېنا مطابق چې کله په ۱۹۳۰ء کښې باچا خان راپاڅېدو او د پښتنو اصلاحي تحريک ئې شروع کړو نو د پورې هوتي دا غېرت مند درانۀ پښتانۀ ورسره د ازادۍ تحريک کښې کلک ملګري شو چې نومونه ئې په دې ډول دي، د هوتي صحبت خان کاکا يارخانے، افضل خان کاکا، حېدر خان کاکا عزي خېل، مهربان شاه بابا جټ خېل، حاجي دوست محمد کاکا مشواڼي خېل، سېد عبدالحنان باچا صېب چې بيا د مردان د ټول ښار صدر ؤ، اصل کښې په هوتي کښې غټ او لوئے مرکز د مهربان خان حجره هم وه، ځکه دغه خانان باچا خان سره شامل شو، نادر بابا عزي خېل هم يو دروند پښتون مشر ؤ چې اميرمحمد خان او ډاکټر خان صېب ورله کور ته راغلي وو او دے ئې په قامي تحريک کښې شامل کړے ؤ او د دې نه علاوه د پورې هوتي دلبر خان کاکا اجټ خېل، شماس کاکا عرف شماسے، خان بهادربابا نورمن خېل، شمروزے ماندوے، د مشرانو د وېنا مطابق دوي

به د پورې هوتي په شګو کښې په هفته کښې يوه ورځ خپل پړاو کولو، په پړاو کښې به دوي په يو قطار کښې ولاړ وو او د خپل جرنېل د نوي حکم انتظار به ئې کولو. د پړاو په دوران کښې به اکثره انګرېزي فوځيان ګوراګان په اسونو سوارهٔ راغلل او ناڅاپه به ئې په دې خدائي خدمتګارو د ډنډو او لتو ګوزارونه جوړ کړل او د پورې هوتي دا غېرت مند خدائي خدمتګار به ئې په شګو کښې راوغورزول او اسونه به ئې پرې د پاسه وګرځول او پړاو به ئې ورله ختم کړو. دوي د انګرېزي فوځيانو مقابله هم کولې شوه خو دوي ته فخر افغان باچا خان د عدم تشدد حکم کړے ؤ. دوي ته د فخر افغان يو حکم ؤ چې دا ګوراګان کهٔ درله يو مخ ووهي دا بل مخ ورته نيسئ او دوي ته هيڅ مهٔ وايئ ځکه چې مونږ د دوي په مقابله کښې کم يو، دوي مونږ او زمونږ د ازادۍ تحريک ختمول غواړي، مونږ نهٔ غواړو چې زمونږ د ازادۍ تحريک دې دومره په اسانه ختم شي.

د پورې هوتي خدائي خدمتګارو ځوانانو، بوډاګانو د ازادۍ په تحريک کښې ډېرې قربانۍ ورکړې دي. دوي ډېر جېلونه تېر کړي دي، وهل ئې خوړلي دي. جائدادونه ئې ضبط شوي دي، مخونه ئې تور شوي دي. د دوي په بدنونو د انګرېزانو د سنګينونو نښې تر مرګه پورې موجودې وې. د مشرانو د وېنا مطابق چې کله به جلسه يا غونډه په تحصيل کښې کېدله نو د ازادۍ دا پتنګان به يو يو دوه دوه د ټولګو په شکل د تحصيل جلسې ته روان شول. مردان بازار کښې به فوځيانو ونيول ځکه چې دوي به سرې جامې اغوستې وې. وړومبے به ئې ډېر ووهل بيا به ئې ورله تلاشۍ واخستې د جېب د خرچې پېسې به ئې ترې نه واخستې، سترګې به ئې ورله وتړلې، په خپلو ګاډو کښې به ئې واچول او ډېر لرې لرې د صوابۍ يا د نوښار په مېرو کښې به ئې پرېښودل، بيا د پياده مېلونو مزلونو نه پس به په نيمه شپه کورونو ته راورسېدل. د دوي مخې ته صرف يو منزل ؤ او هغه دغه چې دا وطن به د شين سترګو نه ازادوو، دوي به د خپلې خاورې نه وباسو او يو ازاد وطن به جوړوو او څنګه چې دوي ته خپل مشر باچا خان وئيلي وو چې پوره وي کهٔ سپوره په شريکه به ئې خورو، د دوي د ډېرو قربانو نه پس پېرنګے د دوي د خاورې نه لاړو، پاکستان جوړ شو، هندوستان ازاد شو، کهٔ وطن ازاد شو خو مېوه ئې چا وخوړه او څوک ئې خوري. نن هم هغه سرمايه دار هغه جاګيردار، هغه د اسلام ټيکېداران د پښتون قام په وسيلو ناست دي او د ملک سپينو سرو سره لوبې کوي. دا دوه فيصده سرمايه دار، جاګيردار د تېرو شپېتو کالو راهسې په مونږ ۹۸ فيصده عوامو حکومت کوي. نن هغه خلق چې دا وطن ئې د انګرېزانو نه ازاد کړے دے، د يو وخت ډوډۍ پورې حېران دي خو نن وخت زمونږ د پارټۍ په صوبه پښتونخوا کښې خپل حکومت دے، زهٔ د دې وخت صوبائي حکومت ته دا خواست کوم چې هغوي د هوتي کهٔ پورې وي کهٔ راپورې د خدائي خدمتګارو د بچو يا نمسو د ښهٔ روزګار، تعليم، مالي امداد څهٔ وسيله جوړه کړي، ځکه چې د دوي دا فرض جوړېږي او حکومت له دا هم پکار دي چې د هغوي د اولاد تپوس وکړي او هغې مشرانو له حکومتي اېوارډونه ورکړي چې نن هغه بچي د خپلو پلرونو، نيکونو په تحريک ازادۍ فخر وکړي.